د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د طبیعي - تخنیکي علومو د برخې معاونیت
د کیمیا، بیولوژي او کرنې علومو مرکز

# د مـــقالو غـــوښـــتنه

**په هېواد کې د غذايي امنیت په موخه د کرنیزو او مالدارۍ نویو ټکنالوژیو ارزونه** ترسرلیک لاندې علمي- څېړنیز سـیمینار چې د کرنې او مالدارۍ په برخه کې د نویو ټکنالوژیو ارزونې او پېژندنې په موخه ترتیب شوی دی، ترڅو د پرمختللو ټکنالوژیو په ارزونې‌سره د خوړو تولید په زیاتوالی، د محصـــول کیفیت په لوړوالي او کرنیزو ضایعاتو په راکمولو کې مرسته وشي او د خوړو خوندیتوب ته لاره هواره شي . د افغانســـتان علومو اکاډمۍ د کیمیا، بیولوژي او کرنې علومو مرکز ریاست، د موضوع اهمیت او اړتیا ته په کتو د دې سیمینار د تنظیمولو پرېکړه کړې. تمه ده چې د پوهانو، څېړونکو، د اړونده سکتورونو مســـؤلینو او استادانو فعال ګډون‌سره د دې علمي سیمینار په مرسته په هېواد کې یو شمېر ستونزو حل ته لاره هواره شي.

## د علمي - څېړنیز سیمینار د مقالو عنوانونه:

١- د کرنیزو او مالداري معلوماتو د راټولو په موخه د GIS او Remote Sensing د کارونې ارزونه
٢- د غذايي امنیت په تأمین کې د نانو سرو د رول په اړه څېړنه
٣- په هېواد کې د خوړه ایز خوندیتوب په موخه د غذايي موادو د حرارتي او غیرحرارتي ساتنې پروسس په اړه څېړنه
٤- د حیواني جیرې د بډاینې په موخه د ورزیاتېدونکو کیمیاوي موادو ارزونه
٥- د غذايي مصئونیت او امنیت په تأمین کې د کیفیت کنترول ونډه
٦- د غذايي امنیت په موخه د اقلیمي بدلون او وچکالیو د ناوړو اغېزو په کمولو کې د نویو ټکنالوژیو ارزونه
٧- په هېواد کې د غذايي امنیت د تأمین په موخه د مصنوعي غوښو په تولید کې د نویو ټکنالوژیو ونډه
٨- د غذايي امنیت په موخه د خوراکي توکو په ساتنه کې د نانو ټکنالوژۍ ارزونه
٩- د هېواد د مرغانو روزنې په فارمونو کې د هغوی د روغتیايي حالت معلوملو په موخه له نظارتي سنسورونو څخه د ګټې اخیستنې څرنګوالی
١٠- په هېواد کې د غذايي امنیت په موخه د سر پوښلې عمودي کرنې (Indoor Vertical Farming) د رول ارزونه.
١١- په هېواد کې د غذايي امنیت په موخه د نویو ټکنالوژیو د اړتیا او اهمیت ارزونه
١٢- په هېواد کې د غذايي امنیت په موخه د آفت وژنې د نویو ټکنالوژیو ارزونه.
١٣- په غذايي امنیت کې د ترانسجینیک نباتاتو رول.
١٤- په هېواد کې د بزګرانو د لګښتونو کمولو او کرنیزو حاصلاتو ډېرولو لپاره د میکانیزه کرنې د اغېزمنتیا ارزونه
١٥- په هېواد کې د غوښو او لبنیاتو د زیاتوالي په موخه د څارویو په تغذیې او روزنه کې د نویو ټکنالوژیو ارزونه
١٦- په هېواد کې د کرنیزو حاصلاتو په زیاتوالي کې د اصلاح شویو تخمونو او بایو ټکنالوژۍ د رول ارزونه
١٧- په هېواد کې د کرنیزو حاصلاتو د تولید د لګښتونو په کموالي کې د پرمختللیو کرنیزو ماشین آلاتو د رول ارزونه
١٨- په هېواد کې د غذايي امنیت په موخه د کب روزنې د پراختیا ارزونه
١٩- په هېواد کې د کرنیزو سیمو، تحلیل او نقشه جوړونه کې د جیوانفارمتکس د رول په اړه څېړنه
٢٠- د کال په ټولو فصلونو کې سبو ته د لاسرسي په موخه د پرمختللیو هایدروپونیک شنو خونو د پراختیا ارزونه
٢١- د مالدارۍ او کرنیزو نویو ټکنالوژیو په برخه کې له پانګوونې څخه د ملاتړ په موخه د پالیسیو ارزونه
٢٢- د څارویو د نسلونو په اصلاح او محصولاتو په زیاتوالي کې د بایو ټکنالوژۍ د کارونې ارزونه
٢٣- د غذايي امنیت په موخه د پایښت لرونکې کرنې او مالدارۍ په پرمختیا کې د امارتي او خصوصي بنسټونو رول
٢٤- په هېواد کې د کرنیزو حاصلاتو د زیاتوالي لپاره د اوبه خور د ځیرکو ټکنالوژیو د کاروونې ارزونه
٢٥- په هېواد کې د کرنیزو نویو ټکنالوژیو د ترویج او پراختیا په وړاندې د خنډونو او فرصتونو ارزونه

د وټساپ شمېرې: ۰۷۶۶۵۰۷۹۵۲، ۰۷۴۷۰۹۷۸۴۵، ۰۷۸۱۸۴۸۴۰۴، د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۲۰۱۲۱۶، ۰۷۸۳۰۶۹۳۵۸

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د طبیعي - تخنیکي علومو د برخې معاونیت
د کیمیا، بیولوژي او کرنې علومو مرکز

# د مــقالو غــوښــتنه

**یادونه:** د علومو اکاډمي د طبیعي – تخنیکي علومو د برخې معاونیت له هغه قدرمنو څېړونکو، پوهانو او اســـتادانو څخه چې (په هېواد کې د غذايي امنیت په موخه د مالدارۍ او کرنیزو نویو ټکنالوژیو ارزونه) تر عنوان لاندې ســـیمینار ته د مقالو را لېږلو لېوالتیا لري، په درنښــــــت غوښتنه کوي چې خپلې مقالې له لیکلو وروسته د ۱۴۰۴هـ ل. کال د وري میاشتې تر ۲۵ نېټې پورې د کیمیا، بیولوژي او کرنې علومو مرکز ته را ولېږي. په ژورنال کې د مقالو نـــشرولو او په ســـمینار کې ارایه کولو لپاره د مقالو ټاکنه به د ټاکل شوي کمیســــــون له ارزونې وروسته ترسره شي. هغه مقالې چې دې سیمینار ته را لېږل کېږي، باید لاندې معیارونه او ځانګړتیاوې ولري:

**د علمي - څېړنیزې مقالې برخې**

۱. لنډیز (Abstract)
۲. لنډیز په ملي ژبه
۳. سریزه
۴. د څېړنې اهمیت
۵. د څېړنې مبرمیت
٦. د څېړنې موخه
۷. د څېړنې پوښتنه
۸. د څېړنې مېتودولوژي
۹. د څېړنې منځپانګه
۱۰. پایله
۱۱. سپارښتنې
۱۲. په متن کې ماخذونه
۱۳. مأخذونه

**د مقالې معیارونه او ځانګړتیاوې:**

۱. مقاله د ۵ او ۱۰ معیاري مخونو ترمنځ وي.
۲. د متن اندازه دې ۱۲–۱۳ وي او د کرښو ترمنځ واټن Single (واحد) وي.
۳. د عنوانونو اندازه دې ۱۴ بولډ وي.
۴. د فارسي متن لپاره فونټ Bahij Nazanin او د پښتو لپاره فونټ B Zar وټاکل شي.

**پته:** طره باز خان واټ، د شاه بوبو جان د جومات کوڅه، نوی ښار د تېلو پمپ مخامخ، کابل، د افغانستان د علومو اکاډمي، د کیمیا، بیولوژي او کرنې علومو مرکز ریاست.
**د وټساپ شمېره:** ۰۷٦٦۵۰۷۹۵۲، ۰۷۴۷۰۹۷۸۴۵، ۰۷۸۱۸۴۸۴۰۴، **د اړیکو شمېره:** ۰۲۰۲۲۰۱۲۱٦، ۰۷۸۳۰٦۹۳۵۸